مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۲/۰۳/ ۳۱

# کرانه

## لنډه کیسه

هیلي، نن ماښام د پخوا خلاف د انګړ ور له پرانیستو سره، منډه نکړه.

سړي لاسي کراچۍ د دیواله خواته و دروله او برنډې ته راوخوت.

په کټ کې پرتې هیلۍ ژر مخ واړوه.

سړي پر تنده لاس ور کش کړ:

شکر ده زما کرانې لورکۍ، تبه دې نشته.

هغې هیڅ و نه ویل.

بیا پرې ورټیټ شو:

بچۍ، ویده یې؟

ــ نه،

ــ نو ولې نه غرېږې؟

ــ تا سره مې جوړ دی.

ــ او، هو. ولې؟

ــ زه درته کرانه نه یم. مازیګر... مازیګر...

ــ مازیګر؟

ــ هو، ما ولیدې چې دوه ډکې کڅوړې مني دې، هغه دوه منزله تعمیر ته ویوړې او یوه هلک ته دې ورکړې؛ خو ما ته یې نه راوړې. ډاکټر خو ویلي و چې میوه ورته اخله.

سړي، د برنډې ستنې ته تکیه وکړه. ډېر ځنډ غلی و او بیا یې له جیبه د ګولیو پاکټ راوویست. لاس یې لړزیده، کله یې د سرو او ژیړو منو کڅوړې سترګو ته راتلې او کله د هغو د وړلو کرایه چې پرې ګولۍ اخیستې وې.

۱۰/۱/۱۴۰۱
نعمان دوست


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ